**ايا بشار په رښتيا د سوريې د جګړې ګټونکی دی؟**

(ژباړه)




**خبر:**

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي سټيفن دېمستورا په قزاقستان کې په يوه خبري ناسته کې وويل: «په سوريه کې بايد له ترهګرو ډلو سره خبرې ودريږي، اوس د دې وخت رارسېدلی، چې مخالفې ډلې وپوهيږي، چې دوی د سوريې د شپږنيم کلنې جګړې بايلوونکي وو»

د هغه په وينا، دا مخالف لوري ته يو روښانه پيغام دی، چې په جګړه کې يې دې برياليتوب توان نه درلود او په پای کې به حتما سولې ته تسليمېدل.که څوک دا څرګندونې له شته واقعيت سره وڅېړي، نو وبه مومي، چې د سوريې سيمو ته په ننوتلو سره بايد لويې لارې طی کړي.

**تبصره:**

د ۲۰۱۷م کال د جنوري په مياشت کې د حلب ښار له سقوطه وروسته بشار اسد اعلان وکړ: ترهګرو ډلو ته د درنو ضربو په واردولو سره بريالي شوو. د دغه ښار اوسېدوونکي او د دولت مخالفې ډلې، چې مخکې يې ترکيې وسلوال ملاتړ کاوه، په خواشينۍ سره چې دا ځل يوازې پرېښودل شول. له مياشتو اوږدې کلابندۍ وروسته د دغې سيمې اوسېدونکو او مخاليفينو پرته د بشار اسد او د هغه د ملاتړو د شرايطو له منلو څخه په ځانګړې ډول کله يې چې ترکيې له ملاتړه لاس واخيست کومه بله لار نه درلوده. د ادليب ښار له محاصرې وروسته همدا ښار يوازينۍ سيمه وه،چې د دولت مخالفو وسلوالو په لاس کې وه.

کله چې بشار اسد په حلب ښار کې لنډ مهاله برياليتوب ته ورسېد، له دې حقيقته بايد سترګې پټې نه کړو، چې د ده رژيم د دمشق ښار د کابو کولو لپاره د وسلوال پوځ له کمښت سره مخ شو. که دقيقه څېړنه وشي، د حلب ښار له سقوط وروسته د جګړې تګلاره بدله شوې او دغه رژيم پورې تړاو لري، چې په دغو شرايطو کې څه ډول خپلې ګټې خوندي کوي.

د حلب ښار له سقوط وروسته د ترکي SDF ځواکونو او داعش تر منځ د رقې او دَیرالزور په سیمو کې خورا ډېرې نښتې وشوې.په دغو نښتو کې د سوریې د پوځ ډېری نظامیان مړه او ځینو یې پوځ پرېښود، چې له دې کبله روسي او ایراني نظامي ځواکونو ته اړ شول. که چېرې دغه حالت ته دقیق وکتل شي، نو امکان نه لري، چې د سوریې رژیم دې پر ټوله سوریه کنټرول تر لاسه کړي او دا د بشار اسد پر ناکامیو دلالت کوي. د دې تر څنګ د سوریې رژیم د دغې جګړې د ګټلو لپاره اکثریت ځواکونه له لاسه ورکړل.

د ۲۰۱۷م کال د می په میاشت کې د روسیې،ایران،ترکیې او د دولت مخالفو ډلو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک شو، تر څو د دغې جګړې حقیقت څرګند کړي او ټول یوې مناسبې حل لارې ته ورسیږي.

همد راز د آستانې په څلورم کنفرانس کې د نا امنه او جنګ ځپلو سیمو د امنیت لپاره موافقه وشوه، چې باید نا امنه او جګړه ییزې سیمې په امن سیمو بدلې شي او د دغو سیمو پر پولو دې امنیتي کمربندونه او پوستې جوړې شي؛ تر څو د غیر مسلح ملکي کسانو له ننوتلو، د بشري مرستو لېږدوونکو موټرو له راتګ او له اقتصادي پرمختګ څخه اطمنان پیدا شي.

دغه ټولې سیمې به د ایران،روسیې او ترکیې له خوا کنټرولیږي.له دغې کړنې څخه معلومیږي، چې دې سوریې رژیم نه شي کولی د دغه هېواد ټولې سیمې وساتي او همدا راز یې د دولت له مخالفو ډلو سره د مقابلې او جګړې توان له لاسه ورکړی دی. دا په دې مانا ده، چې د سوریې رژیم به خپلې ځینې تر ولکې لاندې سیمې بیا له لاسه ورکړي. که ژور وکتل شي، د سوریې په اړه د نړیوالو او سیمه ییزو قدرتونو تشویش او بشار اسد ته د سیاسي ملاتړ موندل او د سوریې پر سیمو کنټول او لاسرسی د هغوی کار دی؛ نو ځکه د ده د بریا لپاره هیڅ ډول مرستې نه سپموي.
حقیقت دا دی،چې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي استیفن دېمستورا ونه شو کولی، چې د سوریې لپاره سیاسي حل لاره پیدا کړي.هغه سیاسي حل لارې، چې د دغې ستونزې لپاره په استانه، ژنیو او ریاض کې وړاندې شوې، یوازې د شورشونو د پای ته رسولو او په دمشق کې د رژیم د ساتلو لپاره وې، دغه ناستې او خبرې ځکه ناکامې شوې، چې د مخالفو ډلو هېڅ استازی پکې نه و غوښتل شوی ، په حقیقت کې نړیوال قدرتونه د بشار اسد په نیم لسیزي هر اړخیز ملاتړ سربېره ونه توانېدل د سوریې د خلکو لپاره واقعي حل لاره پیدا کړي. د سوریې د انقلاب د ختمولو لپاره د نړیوالو قدرتونو هڅو او کوښښونو ته په کتو سره دې پایلې ته رسېږو، چې دوی د ستونزو پر حل او کنترول برلاسي نه دي او نه به هم برلاسي شي.

**د حزب التحریر مطبوعاتي مرکزي دفتر ته**

**لیکوال: عدنان خان**

**۱۴۳۸هـ.ق د ذولحجې ۲۸مه**

**۲۰۱۷م، د سپتمبر ۱۸مه**